# إِذَا مَاتَ الْإِنْسَانُ انْقَطَعَ عَنْهُ عَمَلُهُ إِلَّا مِنْ ثَلَاثَةٍ: إِلَّا مِنْ صَدَقَةٍ جَارِيَةٍ، أَوْ عِلْمٍ يُنْتَفَعُ بِهِ، أَوْ وَلَدٍ صَالِحٍ يَدْعُو لَهُ». "كله چې انسان مړ شي نو عمل يې قطع كيږي پرته له درېو څېزونو څخه: جاريه صدقه، علم چې ګټه ترې اخېستل كيږي، او صالح اولاد چې دعا ورته وكړي

له ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: «إِذَا مَاتَ الْإِنْسَانُ انْقَطَعَ عَنْهُ عَمَلُهُ إِلَّا مِنْ ثَلَاثَةٍ: إِلَّا مِنْ صَدَقَةٍ جَارِيَةٍ، أَوْ عِلْمٍ يُنْتَفَعُ بِهِ، أَوْ وَلَدٍ صَالِحٍ يَدْعُو لَهُ». "كله چې انسان مړ شي نو عمل يې قطع كيږي پرته له درېو څېزونو څخه: جاريه صدقه، علم چې ګټه ترې اخېستل كيږي، او صالح اولاد چې دعا ورته وكړي".
[صحيح] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي چې د مړي عمل د هغه په مرګ سره پرې كيږي نو له مرګ وروسته ورته نيکي نه رسيږي مګر په دې درېو څيزونو: ځکه چې دی د همدې درې واړو لامل و: لومړی: صدقه چې ثواب يې دوامداره وي او نه پرې کېږي لکه وقف، جومات جوړول، د څاګانو کېندل او داسې نور. دوهم: هغه علم چې خلکو ته يې ګټه رسيږي لکه: د علمي کتابونو تاليف، يا دا چې يو چاته يې علم ښوده، نو هغه شخص يې له مرګ وروسته علم نشروي. دريم: مؤمن او صالح اولاد، چې خپل مور او پلار ته دعا کوي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/65566

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee